د افغانستان د بشری حقونو سازمان Afghanistan Human Rights Organization

---

نیټه: ۲۰۱۵/۴/۲۰---- ۳۱/حمل / ۱۳۹۴

مطبوعاتی اعلامیه

د راپورونو له مخې حمید بختور چې ویل کیږي یو خود سره وسلوال او د فراه د ولایتي شوراء د ریس د اکا زوی دی لخوا یو بې وزله ماشوم لمړی اخطتاف شوی ،بیا ډلیز جنسي تیری وربانديِ شوی او په اخیره کې په بیدریغه توګه شکنجه شوی دی.

د ۱۳۹۴ کال د وري په ۲۶ حمید بختور د فراه د بنار نه د یو نانوای ۱۷ کلن شاګرد علی محمد نامی د عبدالغفار ځوی اخطتافوي او د بالا بلوک په ولسوالیِ کې دهزکی کلی ته انتقالوي ،چې وروسته دخپل شپږ نفری ګروپ سره یو ځای په ډیره ظالمانه ګه وربانديِ جنسي تیری کوي، او بیا یې په بې رحمانه ډول شکنجه کوي (تصویرونه په اخیر کې وګورئ).

ددې هرڅه نه وروسته کله چې نوموړی ماشوم د دې ډلې د منګولو نه راخلاصیږي، د فراه ولایت د پولیسو امنیې قومندانیِ ته عارض کیږی او هغوی د ذکرشوي وحشت نه خبروي. پولیس دري ورځې وروسته د وري په ۲۹ حمید بختور د مازدیګر پر مهال ګرفتار وي، ولی د ولایتی شوراء د ریس په مداخلې نوموړی تر دوه ساعته وروسته د پولیسو د نظارتخانې نه خوشی کیږي. ددې سره سم حمید بختور ذکر شوی ماشوم او د هغه کورنیِ په مرګ تهدیدوی ترڅو پټه خوله پاتې شی او هم حمید بختور وبښي.

دا په داسي حال کی ده چې ویل کیږي چې حمید بختور لدې نه مخکې هم څو ځله په ورته کړنو د پولیسو لخواء نیول شوی خو د ولایتي شوراء د دریس په مداخلې هر ځل ازاد شویدی.

اوس نه یواځې د دې مظلوم ماشوم فریاد هیڅوک نه اوری او د هغه د تداویِ په اړه هیڅوک توجه نه کوي، بلکه د هغه او د کورنیِ ژوند او ابرویې د جدی تهدید سره مخ دي.

د افغانستان د بشري حقونو سازمان د فراه ولایت په چارواکو او مرکزي حکومت غږ کوی چې:

۱. د نومورې ماشوم او کورنۍ دژوند او ابرو د خوندي کولو لپاره چټک او موثر اقدامات وکړي.

۲. د نومورې ماشوم تداوۍ ته جدي توجه وکړي.

۳. قضیه په پوره جدیت وڅیړی او مجرمین او ملاتړي یې د قانون پنجو ته وسپاري او عدالت تامین کړی.

همداراز مونږ د بشري حقونو او د مدني ټولنو فعالینو اوملګرو ملتونو د استازو نه کلکه غوښتنه کوو چې د دغه قرباني شوي ماشوم لپاره د عدالت غوښتنه وکړي او په حکومت باندې جدی غږ وکړي چې نور په هیواد کې بې عدالتۍ او زورواکۍ ته د پای ټکی کیږدي.

د پیښې ځینې عکسونه لاندی وګورئ











د حميد بختور عكس